۸

# ګټوري لارښووني



Ketabton.com

د سنايي پرمختيايي موسسي له خپرونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸

# ګټوري لاربنوونې


| | | |
|---|---|---|
| خپرونکې | : | د سنايي پرمختيايي موسسه |
| مسول مدير | : | راز محمد دليلي |
| ليکونکی | : | محمد کبير کاوسي |
| پښتو ژباړه | : | ابو معاذ عبدالواسع جبل |
| انځورګر | : | فتانه بکتاش عارفي |
| کمپوز او ديزاين | : | سيد نذير حسيني |

لومړی طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۶ د وري مياشت.
دوهم طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۷ د ژمی مياشت.
دريم طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۸ د ژمی مياشت.
څلورم طبع : ۲۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۹ غويا مياشت.



اتم سړک، قلعه فتح الله د سنايي موسسه: په کابل کې پته
تيلفون: ۰۲۰ - ۲۲۰۱۶۹۳
۱۸۱ پوست بکس
برېښنا ليک: sieal@brain.net.pk
انترنيت پاڼه: www.sanayee.org
اورکزي پلازې شاته، يونيورستي ټاون، پېښور پاکستان: په پاکستان کې پته.
تيلفون: ۰۰۹۲ - ۹۱ - ۵۸۴۲۱۵۵ - ۹۱۵۸۲۱۶۵
فکس: ۹۲+ - ۹۱ - ۵۸۴۵۱۳۹



ددې کتاب ټول حقوق د سنايي پرمختيايي موسسې پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۸

# ګټوري لاړښووني

## تصويري کيسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# د اوسني چاپ سریزه

کله چې د ګټورې لارښوونې کتاب آخرو صفحـــو ته نږدې کیږي د خوښي احساس کوي چې څومره ګټور او په څه کچه خوند لري. ښونکي صاحـب څنګه حبـیب بـریالیتوب ته ورساوه. څنګه حبیب او فرید یو تربله او د نورو هلکانو سره ملګري شـــول. دا مفاهیم ددې وړ ګرځیدل چې د ګټورې لارښووني کتاب ډیر لوستونکي وموندل څو زره جلده چاپ شـوي کتابـونه د لوسـتونکو غوښتني لپاره کافي ندې نو ځکه پر اوسني چاپ اقدام وشو هیله مند یو تر څو دا کتاب د ماشومانو د کتابونو د بڼ ښکلا نوره هم ورزیاته کړي

والسلام

راز محمد دلیلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

د ســـنایي. پراختیایي موسســـه و یاړی چې یو بـــل کتاب یې د کتهوري لاربنوني تر عنوان لاندې هم د کرانو لوســـتونکو لپاره ډالي کړې(SDO) هیله مند دي چې دا اثر زمونږ د تنکیو ځوانانو او ماشـــومانو لپاره یو ارزښتناکه او کتور کام وي.
پدې کتاب کې زیار ایستل شوي تر څو عام فهمه او رواني اصطلاح کاني وکارول شي.
برسیره پردې پدې اثر کې کوښښ شوی چې توري او ویناوي د ماشومانو د لوست لپاره د انځورنو پر مخ ولیکل شي همدارنګه پدې اثر کې په روښانه توګه لاربښوونه شوي چې څرنګه روښانه، پرځای او له میني ډکه لاربښوونونه د ماشـومانو پر روح او روان څنګه کولای شي اغیزه وکړي او د یو بې پروا اوسســت ماشـوم څخه یو هوښیار هلك جوړ کړي او همدارنګه پدې اثر کې داسې جوته شـوي چې څنګه یو وګړی چې بـې له کومې اړتیا څخه بـه یې لانجو او جګړو ته مخه کوله پس له یوي کتهوري لاربښوونې د یو ښوونکې یا یو ادبي ملګري په واسطه پخپله د سولې ښکارندوي وګرځید.
په پای کې هیله مند یو چې دا کوچني غوندي کار د افغان ماشـــومانو او تنکي ځوانانو د ښوني او روزني لپاره کتور تمام شـــې چې دا بـــه په خپله زمونږ د نورو هڅو او فعالیتونو لپاره په راتلونکي کې ښه تشویق وي.

و من الله توفیق
راز محمد دلیلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Preface

Education Commences at the mother's keen and every word spoken with the hearsay of children tends towards the formation of a character.

Sanayee Development Organization is pleased to take another solemn step towards serving the Afghan children and teenagers through publishing Gatawary Lar Kowany (Good Guidance). This book is the 8th illustrated children book published by our institute.

This book encompasses the most commonly used expressions in Dari language. Which has been illustrated with colorful pictures in order to convey better its messages to the reader. Briefly put, this book mainly focuses on:


Encouraging the idea of cooperation and helpfulness.
Participatiog thoughtfully with fellow citizens in building and protecting a society that is open, descent and vital.
Bringing a positive change in children's attitude and behavior by setting an example of a well-mannered and respectful guide.
A positive and firm approach towards conflict eradication.

By publishing this book for the Afghan children and teenagers, SDO sincerely hopes that this book will contribute at grassroots level in our war-afflicted homeland, Afghanistan.

With best regards,

Raz Muhammad Dalili
Executive Director SDO

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library



مور : بیا له خاورو سره لوبې کوئ، حبیبه ولې نه پوهیږې؟


ته خو غټه سړې يې! زه څومره جامې وینځم. نفیسې ته چیرته تللې وې هله زر کور ته راشئ!




(c) ketabton.com: The Digital Library

نجیب: څنګه وکړو؟ نفیسه خو لاړه.

حبیب: که همدا اوس لاړ شو، مور مې په غوسه ده هرو مرو موږ وهي، راځئ چې لږ وروسته لاړ شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



فرید : هله شوټ وکړه.

نسیم : دا دې واخله.


(c) ketabton.com: The Digital Library



جیب : اوس موږ هرومرو د هغوی پنډوسکی څیرې کوو. ستا په یاد
ي چې څنګه د هغه پلار زموږ پنډوسکی څیرې کړی وو.
بیب : اوه رښتیا وایې د هغوي پنډوسکی نوی دی. راځه چې ځو زه
اوس هغوي ته وښیم چې څیري کول د پنډوسکی څنګه دی.




(c) ketabton.com: The Digital Library




فرید په غصه : که یوه دقیقه
پنډوسکی را ونه غورځوي. نو
زه به تاسي سره ګورم.
حبیب : اوه اوه دا وګوره، له ما
سره به ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




فرید : غړېږه مه ، پنډوسکی راوغورځوه.
حبیب : روغې خبرې کوه، څه کولای شې؟
نجیب : په یاد لرې چې ستا پلار زموږ پنډوسکی څیرې کړی وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجیب له ځانه سره: اوه خبره ورانه شوه. کار په نښته بدل شو. کاشکې مې دا کار نه وای کړی. ما هسې حبیب وهڅاوه اوس څه چاره لري. کار وران شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




حسن کاکا : څه خبره وشوه دا هلکان ولې یو ځل د یو بل
په وهلو پیل وکړو.
او هلکانو : بس کوئ، څه خبره ده؟ ډیره بده خبره ده،
خپل کوڅه وال هم یاست.


(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن کاکا : څه خبره شوی؟ زویه وګوره څومره بد دی چې شخړه کوي. تاسې خو مکتبیان یاست، ګاونډیان یاست ګاونډیان خو لکه د یوې کورنۍ غونډې وي ولې یو ځل او ناڅاپه یو د بل په وهلو مو پیل وکړو.

فرید : حسن کاکا، تاسو خو ولیدل چې زمونږ ګناه نه وه، زمونږ پنډوسکی یې واخیست او خیرې یې کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library




نجیب : اوه خدایه څنګه وکړو، څومره ځنډ شو. کاشکې
هغه مهال کورته تللی وای. زړه می ډزیږی.
حبیب : زه هم نه پوهیږم چې څه وکړم، زما مور هم په
غصه ده، دا وینې وګوره جامې مې څوځایه شلیدلې دي.
نجیب : کیدای شی تر ما خوستن پورې دلته ایسار شو،
راځئ که خدای غوښتل لاړ به شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نفیسه : مور جانۍ : هغه دي راغلل، وای د حبیب خوله وینې شوې.

حبیب : غلی شه چې مور مو خبره نه شي، که نه نو زه به بیا تا سره ګورم، ته شیطانه خبر ورونکې.




(c) ketabton.com: The Digital Library

مور : لکه چې چاسره مو شخړه کړې وي! دا خوله او
جامې باندې دې څه شوي؟
حبیب : مور جانې : مو، مو، مو...
مور : ډېرې خبرې مکوه، زه مخ ووینځه او راځه.




(c) ketabton.com: The Digital Library



مور : اوس ووایيٍ چه څه خبره شوې وه!

حبيب : زموږ ګناه نه وه، فريد او نسيم موږ سره لانجه وکړه.

مور : ګناه ستا وه او که د فريد او نسيم زه نه پوهيږم. فقط زما خبره واوريئ، چې شخړه او لانجه چې د هر چا سره وي ښه کار ندی. او په تيره بيا د ګاونډيانو سره.




نجیب : هغه سړی څوک دی؟
حبیب : نه پوهیږم زما په آند
چې دجاوید دوی کره ځی.
نجیب : هوکې ریښتیا وایې
هغه دی له موټر نه څه
راښکته کوی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبیب : کیدای شی د جاوید دوی کره کله راغلي وي.
نجیب : راځئ چې مرسته ورسره وکړو.
حبیب : ځی هم مو وخت ښه تیریږي او هم هغه خوښیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوی ګاونډی: خير يويسئ زامنو، داسې برېښي چې ډا ښه
ځای دی. ګاونډيان يو تر بله سره مينه لري.
حبيب: تاسې مشرياست بايد له تاسو سره مرسته کړو،
ثواب لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

نوی ګاونډ: هیله کوم جارو ماته راکړئ.

حبیب: ما پرېږدئ چې جارو وکړم ستاسو جامې ناولې کیږي.

نوی ګاونډی: نه مننه تاسې ډیره مرسته وکړه.




(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاونډی : دا کتاب ولولې، ډیر ښه او په زړه پورې دی.
حبیب : تاسې ډیر کتابونه لری؟
ګاونډی : هو که زه ډیر کتابونه لرم. زه ښوونکی یم، کتاب ډیر ښه ملګری دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

حبیب : خیال کوه چې کتاب یې ماته راکړی دی.
نجیب : څه ستا دې وي ، زه چه د ښونځي کتابونه ولولم ډیر دي.
حبیب : والله زما کتابونه هم نه خوښیږي. اوس چې نوي ګاونډي
راکړی یو ځل به یې ولولم. خپله زما ډیر خوښ شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

حبیب : مور جانې! د نوي ګاونډي لپاره څه نه پخوئ.

مور : هغه څه موچې د ځان لپاره پاخه کړي دي ورته یوسه.

حبیب : مور جانې څه توپیر نه لري فقط چې یو څه وي.




(c) ketabton.com: The Digital Library


حبيب : ښوونکی صاحب : لږ غوښې ډوډۍ مې درته راوړې.

ګاونډی : مننه ستاسو مرسته د جامو راوړلو په هکله بس وه.

حبيب : تاسې زموږ ګاونډ ياست پر موږ حق لرئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library




حبیب : مانه یې پوښتنه وکړه چې څوم ټولګي کې یاست
ماوویل پنځم ټولګي، ویې ویل اوس زما او ستا ملګرتیا
نوره هم ډیر یږي.

مور : هغه ښوونکی دی زیار وباسه چې څه زده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


حبیب : کاشکې چې هغه زمونږ ښوونکې وای، کاشکې ټول ښوونکې همدا شان وای.

نجیب : که جرات لرې نو خپله د ریاضي کتابچه ورته ویښیه چې ونشي کړای صفرونه یې وشمیرې.



(c) ketabton.com: The Digital Library


ګاونډي : پوښتنه مې وکړه چې
سيدجمال الدين افغاني د افغانستان
د کوم ځای و.
حبيب : د کنر ولايت د اسعد آباد د
کلی.
ګاوندی :آفرين هوښيار هلك.




(c) ketabton.com: The Digital Library

نفیسه : رښتیا حبیبه ښوونکي صاحب ته ووایه چې لږ
درس درسره ولولي، چې ډیر صفرونه وانه خلې.

حبیب : څه دې وویل ؟ ته ... ته څه وایې. زه هره شیبه
درس لولم.




(c) ketabton.com: The Digital Library




حبیب : نجیب څنګه وکړ زه د
ګاوندي په وړاندې په یوه پیسه
شولم.
مور: حبیب ځویه څه خبره ده؟
ماته ووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجیب : ډیر بد کار شوی، تا ولې د ښوونکی صاحب په
وړاندې حبیب ته داسې خبره کړې
نفیسه:  زه څه پوهیدم چه داسې یې ورځخه بد راځي.
نجیب : وګوره ددې خبرې پخاطر څومره خفه او عاجز
شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




مور : واخله زویه دا دارو وخوره چې ډیره تبه لري.

حبیب : مننه مورجانې ماسره په غم کې پاتې یې.


مور : خیر دی، دارو دې وخوره، په خیره سره ژر به روغ شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجیب : سلام ښوونکی صاحب!
ګاوندی : وعلیکم السلام: حبیب څنګه دی زه یې
پوښتنې ته راغلی یم.
نجیب : کورته راشئ، حبیب سخته تبه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




ګاوندی : سلام، حبیب جان شته، څنګه دی؟

د حبیب مور : شکر ښه دی.

ګاوندی : د هغه د ناروغۍ نه خبر شوم،

راغلم تر څو د هغه حال و پوښتم.




ګاونډی: حبیب جانه! څنګه ناروغه شوې؟

حبیب: اوس شکر دی ښه یم، زه هم نه پوهیږم چې څنګه ناروغه شوم.

ګاونډی: په ژوندانه کې داسې خبرې کیږي له خیره سره ژر روغ شي چې زه اوته ډیر پلانونه لرو. باید درسونه پیل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاونډی : وبښئ چې ستا سو د زحمت سبب وګرځیدو.
حبیب جان ته د خداي(ج) نه شفا غواړو .
نجیب : تاسو اوبښئ چې دلته راغلي او زیار مو
وایستلو حبیب جان ستاسو ډېر عزت کوي او تاسې
خوښوي ستاسو کیسې تل زموږ په کور کې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن کاکا : حبیب جانه دا ښوونکی صاحب ستا ملګري شوی دی.

حبیب : هوکې حسن کاکا ، ډیر ښه سړی دی هوښیار او مهربانه سړی دی.


حسن کاکا : رښتیا وایې تل چې زموږ نه سودا اخلي اوله سلام او ستړي مشي کوي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

حبیب : مور جاني ! مور جاني! زه بریالی شوم، زه دریم نمره شوم زه ډیر خوښ یم.

مور : اوه خدایه شکر چې حبیب دریم نمره شوی آفرین زویه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



حبیب : سلام حسن کاکا! سلام فرید جانه.


حسن کاکا : وعلیکم زامنو. فرید : څه دې وویل ماته

دې سلام راکړو.

حبیب : هوکې تاسوته مې هم سلام درکړو تیرې شوې

خبرې هیرې کړه زه او ته ورونه یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




نفیسه : حبیب جانه، دغه پوښتنه څنګه حل کیږي.
حبیب : وګوره نفیسې جانې : چې د ۹ نه ۷ لار شي ۲
پاتې کیږي. نجیب جانه ته کوم سوال نه لري؟


(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار : وګوره فریده زویه باید په درسونو کې زیار وباسې. لکه حبیب زمونږ د ګاونډي زوي ټول د هغه سره مینه لري ځکه چې هم هوښیار او هم ادب لري.

فرید: هوکې پلار جانه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



حبیب : سلام فرید جانه.


فرید : سلام څنګه یاست.

حبیب : مور ، څومره ساده وو چې د یو بل سره مو شخړې کولې ددې پر ځای چې د یو بل سره ملګري اوسوو او لوبې وکړو.

فرید : مننه زه هم خوښ یم چې د یو بل سره ملګري شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسته احمد تل دا خبرې تکرارول
چې پسې کرځې هغه به مومي



(c) ketabton.com: The Digital Library

8

# Gatawary Lar Kowany

## (Useful Guidance)


| | | |
|---|---|---|
| Published by | : | Sanayee Development Organization (SDO) |
| Editor - in - Chief | : | Raz Muhammad Dalili |
| Author | : | Muhammad Kabir Kauwsi |
| Artist: | : | Sultan Hamid Fanoos |
| Composed By | : | Saifullah Zamani |

1st Edition: 1000 copies, Financed by (SDO), May 2007
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by (SDO), Nov 2007
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by (SDO), Feb 2008

| | | |
|---|---|---|
| Publishing date | : | Apr 2010 |
| Number of copies | : | 2 000 copies |
| Financed by | : | Sanayee Development Organization (SDO) |



| | | |
|---|---|---|
| Kabul address | : | Sanayee Development Organization (SDO)<br>Qala-e-fatiullah 9th street, Near Shahoon Electricity Junction |
| Kabul telephone | : | 0093-(20) 2201693 |
| Post Box | : | 181 Kabul Afghanistan |
| Email | : | sdfkabul@ceretechs.com |
| Websites | ; | wwwsanayee.org<br>Www.nawidefarda.com |
| Peshawar Address | : | Kabul English Language Center,<br>Behind Orakzai Plaza and total CNG, university Road Shaheen Town, Peshawar Pakistan |
| Telephone | : | 0092-91-5842155 - 91582165 |
| Fax | : | +92+-1-5845139 |


**All Rights Reserved**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**